مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لیوال
۲۰۲۶/۰۸/۰۳

# استعمار؛ پرون او نن

ښکېلاک یا استعمار، چې ګڼ ملتونه یې د خپل تاریخ توره دوره بولي. په وړاندې یې مبارزه خپله ملي حماسه او ښکېلاک ضد مبارزین ملي اتلان یادوي. خو ایا دا پوښتنه مو له ځانه کړې ده، چې ښکېلاک څه دی؟ ولې او څنګه رامنځته شو؟ چا ؟ څوک ولې ښکېل کړل؟ ایا د استعمار موخه او انګېزه یوازې اقتصادي وه؟ فرهنګي ښکېلاک څه دی؟ او تر ټولو مهمه پوښتنه: ایا ښکېلاک پای ته رسېدلی؟ که نه؟ نوی ښکېلاک څه او نوې بڼې یې څنګه دي؟

**استعمار له استحمار څخه پیلیږي**
**ناپوهی نه هرملت کندې ته لویږي**

**ځان ځراغ کړه چې جهان درته ښکاره شي**
**په تیاره کې رڼې سترګې هم ړندیږي**

دا د بشریت لرغونی عادت و، چې زورورو واکمنو کمزورو هېوادونه ونیسي او خپله واکمني دې لاپسې پراخه کړي، خو دا نیواک به یا د زمکې د پراختیا او یا هم د شتمنیو د چور تالان لپاره کېده او یا به یې دیني و مذهبي دلایل لرل. خو هغه څه چې موږ یې نن ښکېلاک یا استعمار بولو له هغه لرغوني نیواک سره یوڅه توپیرونه لري.

په شپاړسمه پېړۍ کې، لومړی پرتګالیان و اسپانویان او بیا وروسته انګلیسان، فرانسویان او هالندیان د نورو هېوادونو د سرچینو او بشري ځواک په ورخپلولو پسې راووتل. په دې ترځ کې د امریکا لویه وچه کشف او لاندې کړای شوه. همدا چې په اروپا کې د صنعتي انقلاب ماشین وغورېد، سمندري لوېې بېړۍ جوړې شوې، اومه توکو ته اړتیا زیاته شوه، نو ورسره د صنعتي دوران ښکېلاک هم پیل شو. د کلونیالیسم Colonialism مفهوم د لاتیني ژبې د کالونیا له ریښې راته چې د ودانۍ په مانا و. د عربي ژبې استعمار چې د ودانولو هڅه (د اعمار طلب) یې ژباړلای شو، هم ځکه د کلونیالیسم معادله منل شوی اصطلاح ده.

د تاریخ په یوه پړاو کې لویو صنعتي ځواکونو ښکېل شوې نړۍ یا مستعمرات ترخپل منځه ووېشل، دا ویش بشپړ سوله‌ییز نه و. ښکېل شویو هېوادونو د ښکېلاکي رقیبو ځواکونو د خپل‌منځي سیالیو کړاو هم وزغامه. لویه لوبه The Great Game د همداسې سیالۍ یوه بېلګه ده چې افغانستان یې تباه کړ.

لویې نړیوالې جګړې هم د ښکېلاکي سیاستونو په بهیر کې د نړۍ پر ویش رامنځته شوې، خود ښکېل شویو هېوادونو ملتونه هم کرار نه وو ناست. دوی د خپلواکۍ مبارزې کولې او څو پېړۍ وینې وبهېدې. ښکېلاکګرو هڅه کوله خپل قرباني ملتونه وپېژني، د دوی فرهنګ، ژبې، دودونه، دوستۍ او دوښمنۍ، باورونه، جغرافیا، تاریخ او حساسیتونه ځان ته معلوم کړي او پوه شي، چې څنګه یې تر ډېرې مودې ښکېل ساتلای شي؟ استعمارګرانو په خپلو مستعمرو کې خپل‌منځي شخړې جوړولې، هڅه یې کوله ښکېل شوي ملتونه د علم، پوهې، ساینس، تکنالوژۍ، ودې، مختګ او هوسا ژوند له امکاناتو محروم وساتي، دوی باور درلود چې که ښکېل شوي ولسونه پوه او هوښیار شول، نو بیا هرومرو خپلواکۍ ته ځان رسوي. د خرافاتو او ناپوهۍ وسله تر ټولو کارنده وسله وه، چې ښکېلاکګرو د خپلو قربانیانو په وړاندې کاروله. که څه هم د شلمې پېړۍ له پیله ګڼو هېوادونو سیاسي خپلواکي ترلاسه کړه، خو ښکېلاک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

او زبېښناک پای ونه‌موند. بنې يې بدلې شوې، روايتونه او وسايل يې بدل شول، تنده او تېاس يې لا زيات، خونړی او پېچلی شو.

نن سبا د مخامخ پوځي نيواک پرځای اقتصادي محاصرو، تجارتي پورونو، بنديزونو، تحريمونو، تکنولوژيک ښکېلتيا، فرهنګي اغېز، د ترهګرۍ په نامه جوړو جګړو، د نيابتي ډلو ګومارلو او د امنيتي – استخباراتي زونونو په کرښو کې دننه تر اغېز لاندې جغرافيايي ويش د ښکېلاک نوي چلونه او چلندونه دي.

د نوي ښکېلاک په وړاندې د ټولنو خپلواک پاتېدل اقتصادي پياوړتيا، فرهنګي روښانتيا، لوړ ملي شعور، د پوهنې، ساينس او تکنولوژي راخپلول او پياوړي خدمتګار او قانونمند حکومتونه غواړي، چې د کورني مشروعيت پر بنسټ نړيوال پياوړی حضور ولري او څوک يې د ښکېلولو او زبېښناک جرئت ونه‌کړای شي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ